

Ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



# ملک

**لیکوال: واجد « منګل »**

**ترتیب: افغان کتابتون**

(c) ketabton.com: The Digital Library



# پیل

د کړکی له شیشې څخه د لمر وړانګو د ښځې ژیړ مخ لا ژیړ کړی وو، په بدن کې یې د وینې څرک نه مالومیده، سیروم ور ته راځوړند وو، هرو څو ثانیو کې یې ځاځکې ځاځکې وینه اخیسته.

ور سره ناست دولس کلن ماشوم، د ښځې اوږې ته خپل لاس ور وغځاوه، د ښځې ګوتې اوخوریدې، ماشوم وژړل، له کوچنیو سترګو یې غټې اوښکې تویې شوې. په غریو کې یې له خولې د «ادې» لفظ را ووت.

سړی ور پورته شو، ماشوم یې له مټه ونیو، شاته یې کش کړ.

ماشوم ژړل.

سړی وویل:

- پرېږده چې مرداره شي.

د ښځې له سترګو خړه پرده اوچته شوه، ویې غړولې، سیکه نه وه ور پاتې، بېرته یې بندې کړې...

سړي سوړ اسویلی وکړ، په سپینه ږیره یې لاس تېر کړ، له مېزه یې سپینه خولی ور واخیسته او پاڅېد.

د کوټې ور وټکېد، کس را ننوت، ډاکټر وو، سپینه چپنه یې په تن وه.

سړی بېرته په خپل ځای کې کېناست.

ډاکټر د ښځې مخې ته څو دقیقې ولاړ وو، د ښځې نفس او فشار یې ولید. ښځې د یوې میاشتې راهسې د کم خــوني ناروغی لرله. دا ځل روغـــتون ته د هغې راتګ یواځې کم

(c) ketabton.com: The Digital Library



خوني نه وه، د سر ضربه هم ورسره ملګرې وه، تندی یې پرې (ځیرې) وو.

وروسته ډاکټر سړي ته مخ ور تاو کړ، په خوشحالۍ یې وویل:

- ملک صیب، مېرمن مو په ښه کېدو ده. شکر چې زموږ د همکار د وینې ګروپ ور سره سمون اوخوړ، کني اوس به ژوندۍ نه وه پاتې.

سړي ترخه موسکا وکړه، د منني لپاره يې ورته لاسونه په سینه کېښودل:

- ښه شوه چې وه ژغورل شوه. او له تاسې هم ډېره مننه!

ماشوم سړي ته برګ برګ کتل.

وروسته سړي وتوخل، رنګ یې سور شو، له ځایه پاځېد، د باندې ووت.

د ماشوم په مخ د اوښکو چاپونه وو، سپین غومبري يې د اوښکو له امله خیرن ښکاریدل.

ماشوم سلګۍ کولې.

ډاکټر ور وکتل:

- مه ژاړه زویه، مور دې ښه کېږي.

ماشوم پوزه کش کړه، له اوښکو ډکې سترګې يې له مور سره نیږدې ولاړ ډاکټر ته ونیولې، په ژړا کې یې وویل:

- ملک چا ته وایي؟

- هغه کس ته، چې د خلکو ستونزې حل کوي.

- نو زما پلار، زما د مور ستونزه ولې نه شي حل کولی؟، هره ورځ یې زما مور له ویښتو را نیولې وي او وهي یې.

ډاکټر حیران ورته وکتل.

(c) ketabton.com: The Digital Library



ماشوم د ژبې د بنديدو له امله د «پلوشې» نوم سم نه شو اخيستلی، په سختۍ يې وويل:

- که نن د پل، پلوسې دوی بابو نه وای خبره شوې، پلار به مې ادې مړه کړې وای.

ډاکټر په لاس کې نيولې پيچکاری د کټ په ژۍ (څوکه) کېښوده، وروسته ماشوم ته ور نيږدې شو، په مخ يې لاسونه ور تېر کړل، اوښکې يې ور پاکې کړې، ويې ويل:

- ملک صيب ولې خپله ښځه وهي؟

ماشوم زګيروی وکړ:

- وايي، بله ښځه کوم خو مور مې...

له دروازې سره ولاړ سړي په تېزه ستونی تازه کړ، ماشوم ژر ور وکتل، سړي (د ماشوم پلار) وو، ماشوم چوپ کېناست.

ډاکټر د ماشوم له څنګه ليرې ودرېد، سړي ته يې په ځير ځير وکتل. يوه شيبه يې سترګې پکې نيولې وې، وروسته يې له څنګه تېر او د باندې ووت.

# پای

(c) ketabton.com: The Digital Library



**یادونه!**

**خپل نظرونه مو په لاندې ادرسونو را سره شریک کړئ.**

**فیسبوک: Wajid Mangal**

**واټساپ: +4368864664143**

**ایمیل: Wajidmangal2003@gmail.com**

ډېره مننه له افتخارالله افتخار څخه!

د کره کتنې په پار مې کیسه ور ولیږله، لومړی کس وو چې راته یې وویل؛ کیسه دې ډېره ښه لیکلې.

**Get more e-books from www.ketabton.com**
**Ketabton.com: The Digital Library**